# د زده کوللو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بيان: 5 منټه (2): دُعا يادول: 5 منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: 5 منټه، ټول وخت: 15 منټه۔

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې پهٔ 72 **نيک اعمال** کښې د يو نيک عمل د **دِيني کتابونو د لوستلو** پهٔ باره کښې کټه ور معلومات درکولے شي او **پهٔ عِلم کښې د زياتوالي دُعا** به يادولے شي۔ پهٔ اخره کښې به د نيک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کيږي۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

## د دُرُود شريف فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** څوک چې پهٔ ما باندې د جُمعې پهٔ ورځ درودِ پاک لولي، زهٔ به د قيامت پهٔ ورځ د هغه شفاعت کووم۔ [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دِيني کتابونه لوستل

## نيک عمل نمبر 12

اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ عِلم او عمل کښې د ترقۍ د پاره د اِسلامي خوئيندو، د اِسلامي ورونړو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو پهٔ شکل کښې د نيک اعمال مختلفې رسالې مُرتب کړې دي۔ نن به مونږ د 72 نيک اعمال رسالې نه د **نيک عمل نمبر: 12** پهٔ باره کښې زدکړه کوو۔

**نيک عمل نمبر: 12** آيا نن تاسو د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يا د مکتبة المدينه يو کتاب يا رساله يا ماهنامه فيضانِ مدينه کم از کم 12 منټه لوستلې يا اوريدلې؟

---

[1] ...جمع الجوامع، جلد:7، صفحه:199، حديث:22352۔

# آيت مبارک

الله پاک فرمائيلي دي:

وَمِنْهُمْ اُمِّيُّوْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ الْكِتٰبَ اِلَّآ اَمَانِيَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا يَظُنُّوْنَ ﴿۷۸﴾ (پاره:1، سورهٔ بقره: 78)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او په هغوئي کښې څهٔ بے تعليمه دي کوم چې په کتاب نهٔ پوهيږي خو اوريدلې خبرې يا د ځان نه څهٔ راجوړ کړي او هغوئي صرف په خيال او ګُمان کښې پراتهٔ دي۔

❁ يعنې په بني اِسرائيلو کښې يوه ډله هُغه ده کومه چې دِيني کتابونه نهٔ لولي بس په اوريدلو خبرو باندې يقين ساتي، د کومې په وجه چې هغوئي د اِيمان نه محرومه دي۔ [1]

❁ معلومه شوه چې دِيني کتابونه نهٔ لوستل، صرف په اوريدلو خبرو باندې يقين لرل، بعضې وخت د ګمراهۍ سبب جوړيږي۔

## د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

د عِلم يو باب زده کول دُنيا او په دې کښې د موجودو ټولو څيزونو نه بهتر دي۔ [2]

## د کتابونو د لوستلو په باره کښې حُکمونه

(1): دِيني کتابونه لوستل په عِلم کښې د زياتوالي ذريعه او ډير د ثواب کار دے (2): چې کوم کتابونه د اِسلامي عقيدو او نظريو يا شرعي احکامو خلاف وي يعنې په هغې کښې د اِسلامي عقيدو او نظريو خلاف څيزونه وي داسې کتابونه لوستل حرام دي۔ [3] (3): د بد مذهبو کتابونه لوستل حرام دي [1] (4): په ډائجسټ او ناولو وغيره

---

1 … تفسير، بيضاوى مع حاشيه شيخ زاده، پاره:1، سورهٔ بقرة، زير آيت:78، جلد:2، صفحه:122، ملخصًا۔

2 … احياء العلوم، كتاب العلم، باب الاول في فضل العلم ...الخ، جلد:1، صفحه:20۔

3 … كفريه كلمات كے بارے ميں سوال جواب، صفحه:501۔

كنبي د حيا خلاف تصويرونه، فلمي اِشتهارونه، د عشق، فسق او شهوت ډكې قيصې او ډيرې د كفر جملې وي د داسې ناولو د لوستلو بالكل اجازت نشته۔ (2)

## د دِيني كتابونو د لوستلو فائدې

❁ د دِيني كتابونو لوستلو سره د رحمت دروازې پرانستے كيږي ❁ دِيني كتابونه لوستل د هدايت ذريعه ده ❁ كتابونه لوستل ذهني دباؤ او پريشانئ كموي ❁ كتابونه لوستل د حافظې د مضبوط والي ذريعه ده ❁ كتابونه لوستل پۀ عِلم كنبې د زياتوالي سبب دے ❁ د كتابونو د لوستلو عادت دماغو او د دې خُليو ته طاقت وركوي او د ډيمنشيا (***Dementia***) او د الزائمر (***Alzheimer***) پۀ شان مرضونو مخنيوے كوي (دا دواړه دماغي بيمارئ دي كومې چې د پوهې صلاحيت كموي او پۀ طبيعت كنبې بدلون راولي) ❁ د دِيني كتابونو د لوستلو سره د عِلم حاصلولو فضيلتونه هم حاصليږي ❁ مثلا عِلم حاصلول د 1000 ركعته نفلونو نه افضل دي ❁ څوک چې د فرائضو په باره كنبې عِلم زده كړي او خلقو ته يې ورسوي هغه به جَنَّت ته داخليږي ❁ څوک چې عِلم حاصلوي الله پاک د هغۀ مشكلات اسانوي ❁ عِلم حاصلول پۀ رزق كنبې د زياتوالي سبب دے۔

**د لوستلو د پاره يو څو فائده مند كتابونه:** ❁ د تفسير لوستلو د پاره: ❁ تفسير صراط الـجنان ❁ تعليم القرآن او ❁ خزائن العرفان۔ ❁ **د حديثونو د لوستلو د پاره:** ❁ اربعين عطار ❁ فيضان رياض الصالحين او ❁ منتخب حديثونه ❁ **د عقيدو پۀ باره كنبې د لوستلو د پاره:** ❁ كفريه كلمات كے بارے ميں سوال و جواب ❁ بنيادى عقائد و

---

[1] ... فتاوى رضويه، جلد:23، صفحه:693، ملخصًا۔

[2] ... فتاوى اہلسنت، فتوىٰ نمبر: WAT3993۔

معمولات اهلسنت او ❁ ګلدستہ عقائد و اعمال ❁ د نمونځ او د روژې د مسئلو د لوستلو د پاره: ❁ نماز کے احکام ❁ فیضان نماز ❁ فیضان رمضان او ❁ دحج او عمرې مسئلو لوستلو دپاره رفيق الحرمين- ❁ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سیرت د لوستلو د پاره: ❁ سیرت مصطفٰے ❁ سیرتِ رسول عربی او ❁ سیرتُ الانبیا او د دې نه علاوه د نورو کتابونو د لوستلو د پاره مکتبة المدينه ته راشئ-

## د کتابونو د لوستلو د عادت جوړولو طریقې

❁ د عِلم حاصلولو شوق پیدا کړئ! دې د پاره د عِلمِ دِين د حاصلولو فضیلتونه او برکتونه په ذِهن کښې کیږدئ ❁ د لوستلو په باره کښې د بزرګانِ دِين واقعات لولئ ❁ په کور کښې څهٔ نا څهٔ کتابونه کیږدئ! که کیدے شي نو په کور کښې د یوې ورې شان لائبریری ځائے جوړ کړئ ❁ هدفونه وټاکئ! مثلاً: د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ له اړخه هره هفته د لوستلو د پاره یوې رسالې د لوستلو ترغیب راکولے کیږي هره هفته دا لولئ د دې سره به د عِلم د زیاتوالي سره سره په نیک عمل نمبر 12 او 63 باندې هم عمل کیږي او یو دِیني کار هفته وار رساله مطالعه به هم کیږي ❁ د کتاب لوستلو د پاره یو وخت وټاکئ او په هغه وخت کښې صرف کتاب لولئ-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! نن مونږ د نیک عمل نمبر: 12 مطابق د دِيني کتابونو د لوستلو په موضوع باندې ګڼه ور معلومات حاصل کړل، نیت اوکړئ چې دا نیک عمل به اختیاروو او روزانه به کم از کم 12 منټه د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ یا د مکتبة المدينه یو کتاب یا رساله یا ماهنامه فیضان مدینه کم از کم 12 منټه لولو اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم!

الله پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړې-

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

# د ښودلو او زده كولو پهٔ حلقو كښې يادولو والا دُعا

## پهٔ عِلم كښې د زياتوالي دُعا

رَّبِّ زِدۡنِيۡ عِلۡمًا

**ترجمه:** اے زما ربه! زما پهٔ عِلم كښې اضافه اوكړې۔

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

**(1):** آيا ښه ښه نيتونه مو كړي؟ **(2):** آيا پينځهٔ واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا كړي؟ **(3):** آيا د هر نـمونځ نه مخكښې مو د نـمونځ دعوت وركړے؟ **(4):** آيا د شپې مو سُوۡرَةُ الۡمُلۡك لوستلے يا اوريدلے؟ **(5):** آيا د هر نـمونځ نه پس مو آيَة الكرسى، تسبيحِ فاطمه، سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاص لوستلے؟ **(6):** آيا د كنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلې يا اوريدلې؟ **(7):** آيا د شجرې اوراد مو لوستلې؟ **(8):** آيا 313 كرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ **(9):** آيا ستر گې مو د گناهونو نه بچ ساتلې؟ **(10):** آيا غوږونه مو د گناهونو نه بچ ساتلې؟ **(11):** آيا د فضول نظر نه پهٔ بچ كيدو سره مو نظر ښكته ساتلے؟ **(12):** آيا 12 منټه مو د مكـتبة الـمدينه اِصلاحي كتاب لوستلے؟ **(13):** آيا د اذان او د اِقامت جواب مو وركړے؟ **(14):** آيا د غصې علاج مو كړے؟ **(15):** آيا خپله جائزه مو اخستې؟ **(16):** آيا د خپل نگران تابعداري مو كړې؟ **(17):** آيا پهٔ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې كړې؟ **(18):** آيا پهٔ مكـتبة الـمدينه بالغان كښې مو لوستلې، يا مو ښودلې؟ **(19):** آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پهٔ دوو گينټو كښې كور ته رسيدلې يئ؟ **(20):** آيا دوه گينټې مو پهٔ ديني كارونو باندې لگولې؟ **(21):** آيا د سحر

د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پهٔ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پهٔ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پهٔ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څهٔ نا څهٔ مو پهٔ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةُ الليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پهٔ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آيا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چينل کتلے؟ (40): آيا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آيا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئيلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آيا د صفايۍ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانونو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلي؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو

ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

❁ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ❁ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ❁ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلې تپوس يا غم خورې او د چا پۀ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا پۀ هفته کښې مو پۀ يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا محکښې راتلونکي او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟